# دپښتونخواه بیغیرتو حاکمانوته

له خپل قبر سر، کړه پورته پاچاخان
ستا لمسیان بی ننگه شوی اوبی ایما ن
د پنجاب د حا کما نو په لمسون اوس
پښتونخواه نه با سی ټول ستا افغا نا ن
د مقام او د چوکی خا طر د پاره
بی ننګی ته ملاتړلی سپک سرو خانان
د پښتو غیرت خرخ کړی په پنجاب
حمید ګل او مولانا فضل الرحمان
پا کستان کی حرام بولی جنګ جګړی
د دیوبند اود انګریز ټول مریا ن
د هغو چی واک پخپل کور نه لری
که غنی دی که ختک که با بریا ن
پښتون کله له خپل دود ځنی اوړی
دوی هیرکړی ننګ غیرت دخوشحالخان
خپل ورور هیڅوک له کوره نه با سی
د ا شرشت نه دی هیڅکله د افغا ن
کوز او بر پښتا نه دی سره ورونه
که وزیردی که مسعود دی که مومندان
تولعنت دی وی په هغو بی غیرتو
په کلدار چی خرڅوی خپل عزیزان
ژمی تیر به شی په دی خوار اوغریبو
پاتی نه به شی دا ورځ په دی خواران
هیر مو نشی لرو برو افغا نا نو
دامو کور دی خپل پښتونستا ن
د خیبر لاره د تلو اود راتلو دی
په کابل او پیښور کی افغان یودی
دا وطن مو د پلار او د نیکه دی
(مل) ایستلی نشی هیڅوک افغا نا ن

***

سیدحسام (مل) =۲۰۱۴-۱۲-۲۷